


د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## شپږم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال ۱۳۹۰ هــ . ش.



**د پوهنې وزارت**
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د رسامۍ هنر

## شپږم ټولگی

**د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب د تاليف، څېړنې او تدقيق کميټې

**ليکوالان:**

۱. محمد ظاهر طاهري د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت آمر.

۲. سيد انور ميچنخيل د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

**تاييد او مطالعه:**

**ملي شورا:**

د ولسي او مشرانو جرگو د ديني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کميسيونونو غړي.

**د څېړنې او تدقيق کمېټې:**

**د علومو اکاډمي:**

سرڅېړونکی عبدلواجد واجد د علومو اکاډمی د ژبو او ادبياتو د مرکز رئيس.

ذکريا ملاتړ د علومو اکاډمی د ژبو او ادبياتو د مرکز علمي غړی.

**د کابل پوهنتون:**

پوهندوی محمد رفيق رفيق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پښتو څانگې استاد.

**د هنرونو مسلکي ليسه:**

**دپوهنې وزارت:**

۱. سعدالدين شپون د پوهنې وزارت سلاکار.

۲. نفيسه پوپلزی د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړې.

۳. محمد غالب الله يار د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د هنرونو د ديپارتمنت علمي غړی.

۴. محمد شفيق برنايار د هنرونو د مسلکي ليسي ښوونکی.

۵. بلقيس احمدي د هنرونو د مسلکي ليسي ښوونکې.

**د محتوياتو، سياسي، فرهنگي، او ديني برخو د څېړنې او کره کتنې کميټې.**

ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.

دکتور محمد يوسف نيازی د پوهنې وزارت سلا کار.

د مؤلف مرستيال محمد سهراب ديدار.

**د څېړنې او تدقيق د څارنې کميټه:**


- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين
- دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

کمپوز او ډيزاين: رحمت الله غفاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر



(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پوهنې د وزير پيغام

**گرانو ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زياتې شوې دي. د زده کړې په بهير کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه گرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤوليت لري.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تاليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، منته او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| شمېر | | مخ |
|---|---|---|
| ۱- لومړی لوست: | ........ | ۱-۲ |
| ۲- دوهم لوست: | ........ | ۳-۴ |
| ۳- دریم لوست: | ........ | ۵-٦ |
| ۴- څلورم لوست: | ........ | ۷-۸ |
| ۵- پنځم لوست: | ........ | ۹-۱۰ |
| ٦- شپږم لوست: | ........ | ۱۱-۱۲ |
| ۷- اووم لوست: | ........ | ۱۳-۱۴ |
| ۸- اتم لوست: | ........ | ۱۵-۱٦ |
| ۹- نهم لوست: | ........ | ۱۷-۱۸ |
| ۱۰- لسم لوست: | ........ | ۱۹-۲۰ |
| ۱۱- یوولسم لوست: | ........ | ۲۱-۲۲ |
| ۱۲- دوولسم لوست: | ........ | ۲۳-۲۴ |
| ۱۳- دیارلسم لوست: | ........ | ۲۵-۲٦ |
| ۱۴- څوارلسم لوست: | ........ | ۲۷-۲۸ |
| ۱۵- پنځلسم لوست: | ........ | ۲۹-۳۰ |
| ۱٦- شپاړسم لوست: | ........ | ۳۱-۳۲ |

۱۷– اوو لسم لوست: ........ ۳۴–۳۳
۱۸– اتلسم لوست: ........ ۳۶–۳۵
۱۹– نولسم لوست: ........ ۳۸–۳۷
۲۰– شلم لوست: ........ ۴۰–۳۹
۲۱– یو ویشتم لوست: ........ ۴۲–۴۱
۲۲– دوه ویشتم لوست: ........ ۴۴–۴۳
۲۳– درویشتم لوست: ........ ۴۶–۴۵
۲۴– څلېرویشتم لوست: ........ ۴۸–۴۷
۲۵– پنځه ویشتم لوست: ........ ۵۰–۴۹
۲۶– شپږ ویشتم لوست: ........ ۵۲– ۵۱
۲۷– اوویشتم لوست: ........ ۵۴– ۵۳
۲۸– اته ویشتم لوست: ........ ۵۶–۵۵
۲۹– نهه ویشتم لوست: ........ ۵۷
۳۰– دیرشم لوست: ........ ۵۸



(c) ketabton.com: The Digital Library


# لومړی لوست


## منه او ناک

موخه: د باندنیو او داخلي خطونو په پام کې نیولو او په پنسل د منې او ناک د انځور ولو سره اشنا کیدل.

پوښتنې:

❖ منه او ناک کوم رنګونه لري؟
❖ دمنې او ناک خوړل څه ګټه لري؟





### ښاغلی ښوونکی دې:


د منې او ناک پیژندنه او د هغې د انځور ولو په طریقه باندې زده کوونکي و پوهوي او د دوی له ځوابونو څخه وروسته سم ځوابونه ورته ووایي. دوی خپلې خوښې ته پریږدي چې په نرم پنسل کار وکړي. دکار کولو په وخت کې دوی ته لازمه لارښوونه وکړئ!


### فعالیت:

زده کوونکي دې لومړی پوښتوته ځوابونه ووایي او بیا دې داخلي او خارجي خطونه په پام کې ونیسي او د ضعیف کار څخه دې دقوی کیدو په طرف خپل کارته ادامه ورکړي او بیا دې هغه په ساده پردازونو بشپړ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library






**کورنۍ دنده**: پاتې شوي پردازونه دې په کورکې وکاروي!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم لوست

## د منې او ناک رنګه کول

موخه: د منې او ناک د رنګه کولو د طریقې زده کړه.



**پوښتنې:**

- ❖ په منه او ناک کې کوم رنګونه کار ول کیږي؟
- ❖ منې او ناک په کوم فصل کې پخیږي او خلک یې ولې خوري؟




**ښاغلی ښوونکی دې:**

د منې او ناک د انځور ولو او درنګونو د ترکیب (ګډولو) په اړه زده کوونکو ته لارښوونه وکړي، ترڅو دوی وکولی شي چې د پورتني شکل په شان رنګونه په خپلو خپلو ځایونو کې وکاروي.

**فعالیت:**

زده کوونکي دې د کاغذ په مناسب ځای کې منه اوناک د پورتني شکل په شان انځور او رنګه کړي.





**کورنۍ دنده:** نور خپل انځور په کور کې کاروم!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم لوست

## لاسي کار

موخه: د چاپیریال دساده موادو لکه ختې، لرګی، رنګه پنډ کاغذ او نورو څخه د مڼې او ناک د لاسي کار په جوړېدو باندې د زده کوونکو پوهیدنه.

**پوښتنې:**




- ❖ د لاسي کار له پاره کوم شیان ضروري دي؟
- ❖ کوم ډول لاسي کار مو خوښ دی؟



**ښاغلیه ښوونکیه:**

مڼه او ناک د چاپیریال له ساده موادو څخه جوړ کړئ او بیا یې په ټولګي کې دمیز په سر کیږدئ زده کوونکي د هغې په جوړولو وګماری او تاسې د جوړیدو په وخت کې لارښوونې ورته وکړئ.



**فعالیت:**

زده کوونکې دې پورتني شکلو نه په پام کې ونیسي او بیا دې په ټولګي کې یو لاسي کار جوړ کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





ارز ونه:

- ❖ د سکیچ او طرحه کولو سره مینه درلودل.
- ❖ د رنګ په ترکیب کې یې استعداد ونو وده کړی ده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم لوست

## سابه

موخه: د سابو د انځور ولو او د هغو رنګو سره چې په سابو کې لیدل کیږي آشنا کیدل.

پوښتنې:



- ❖ سابه ولې انځوره وو؟
- ❖ د سابو خوړل څه ګټه لري؟



### ګرانه ښوونکیه:


د سابو په سم کمپوز کولو کې له زده کوونکو سره مرسته وکړئ او د خطونو په واسطه سکیچ کول وروښیئ او د رنګه کولو په طریقه یې پوه کړئ!



### فعالیت:

زده کوونکي کولای شي چې پورتنی شکل په خپله خوښه کمپوز او په آزاد ډول یې سکیچ کړي او هڅه دې وکړي چې رنګونه په مناسبو ځایونو کې راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده**: زه په کور کې له خپلو لویانو سره د رنګ او دهغې د کار ولو او دسابو د رنګونو په هکله خبرې کوم.

## ارزونه:

- د زده کوونکو فکر او بدلون موندلې .دی؟
- د رنګ په اړه معلومات.
- په خبرو د مشکلاتو حلول.

# پنځم لوست

## سابه

موخه: په آزادو خطونو دسابو د انځور ولو دطریقی او دهغې رنګه کولو سره آشنا کیدل.

پوښتنې:



- د رنګونو پرځای استعمال روغتیا ته څه ګټه رسوي؟
- دهر موسم د سابو ځانګړي نومونه واخلئ؟



### ښاغلیه ښوونکیه!

لومړی پورتنی شکل د ټولګي په توره دړه انځور کړئ او بیا زده کوونکي په ډلو وویشئ او هره ډله دې پورتنی شکل په پام کې ونیسي او بیا دې د شکل په انځور ولو پیل وکړي او هره ډله دې خپل انځورونه نورو ډلو ته وښيي.

### فعالیت:

زده کوونکي دې لومړی سابه په خطونو انځوراو بیا دې هغه رنګه کړي او خپل اثر دې دټولګیوالو دننداري له پاره کیږدي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ دنده: په کور کې له دخپلو لویانو سره درنګ د استعمالولو په هکله وغږیږئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم لوست

## ونه

موخه: له ټولګي نه د باندې د طبيعي شيانو د انځورولو سره آشنا کيدل.

**پوښتنې:**

- ❖ هرې خواته په غور وګورئ او ووايئ چې کوم شی ستاسې په فکر ښکلی دی؟
- ❖ په طبيعت کې کوم رنګونه تر سترګو کيږي؟



**ښاغليه ښوونکيه!**


زده کوونکي له ټولګي څخه د باندې وباسئ او دوی خپلې خوښې ته پرېږدئ چې له طبيعت څخه يو شی خوښ او هغه انځور کړي. تاسې دوی ته لازمه لارښوونه وکړئ او د دوی کارونه وستايئ چې د دوی د لازياتې هڅونې سبب شي.

**فعاليت:**

زده کوونکي دې له ټولګي څخه د باندې په خپله خوښه د طبيعت له شيانو څخه يو انځور کړي او د پورته شکل نه په ګټه اخيستنه هغه رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





کورنۍ دنده: د ګران افغانستان د لاسي صنایعو څخه لاسي کار جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم لوست


## الوتونکي

موخه: د الوتونکو له انځور ولو سره د زده کوونکو آشنا کيدل.

پوښتنې:

- کوم ډول الوتونکی مو خوښ دي؟
- د الوتونکو له کومو رنګونو سره مینه لرئ ؟





ګران ښوونکی!


د الوتونکو په اړه زده کوونکو ته څرګندونې وکړئ او پورتني شکلو نه په خطونو د ټولګي په توره دړه انځور کړئ او د دوی پام د شکلونو داخلي او خارجي خطونو ته ور واوړئ او بیا هغه ور باندې انځور کړئ!

فعالیت:

الوتونکي د کتاب او تورې درې له مخې انځور او بیا یې رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزونه:

- د زده کوونکو په انځورونو کې ځومره بدلون راغلی دی.



**کورنۍ دنده:** پورتنی شکل بشپړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم لوست

## طوطي

موخه: دالوتونکو د رنګونو دترکیب او په خطو نو باندې دهغې دانځورولو زده کړه.

**پوښتنې:**

- ❖ دلاندې شکلو نو در نګونو د ترکیب په هکله معلومات وړاندې کړئ ؟
- ❖ درسمونو له رنګه کولو څخه څه احساس درته پیدا کیږي؟





### ښاغلیه ښوونکیه!

زده کوونکي په دې وپوهوئ چې لومړی دې شکل په تتو ( خفیفو ) خطونو انځور کړي او مناسب رنګونه دې سره ګډ کړي او شکل دې رنګه کړي. تاسې د رنګونو په ترکیب او سکیچ کولو کې ورسره مرسته وکړئ!



### فعالیت:

زده کوونکي دې په ډیر غور او دقت شکل په تتو خطو انځور کړي او بیا دې هغه په مناسبو رنګونو رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزونه:

- ❖ په سکیچ او رنګه کولو کې دزده کوونکو د فکر څرنګوالی.
- ❖ تر کومه حده پورې د رنګونو په ترکیب کې مهارت بنودل شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم لوست

## افغاني کالي

موخه: د افغاني دود او دستور او د محلي جامو سره د زده کوونکو بلدیدل.

پوښتنې:

- ❖ د افغاني کالیو سره که آشنا یاست پرې وغږیږئ؟
- ❖ د افغاني کالیو ډیزاینونه له څه شي څخه جوړیږي؟



**ښاغلیه ښوونکیه!**


د ګران افغانستان د کلتور او فرهنګ په اړه شاګردانو ته معلومات ورکړئ او لاندینی فعالیت په دوی باندې سر ته ورسوئ. او رسمونه یې د کتابچې په یوه څنډه کې اصلاح کړئ!


**فعالیت:**

زده کوونکي دې د ښوونکي لارښوونې په پام کې ونیسي او پورتنی شکل دې انځور او رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





کورنۍ دنده: له خپلو لویانو څخه د دود او د ستور په هکله معلومات را ټول کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسم لوست


## د آس د پښو حرکتونه

موخه: د مختلفو او بيلا بيلو زاويو څخه د آس د پښو د انځور ولوسره اشنا کيدل.

**پوښتنې:**

- ❖ آس له کوم ډول ځارويو څخه دی؟
- ❖ له آس څخه څه ګټه اخيستل کيږي؟





**ښاغليه ښوونکيه!**

زده کوونکو ته د پورتنيوپوښتنو سم ځوابونه ووايئ. او زده کوونکي پوښتنو کولو ته وهڅوئ.
د بيلا بيلو زاويو څخه د آس د پښې په اړه لازمه لارښوونه ورته وکړئ!




**فعاليت:**

زده کوونکي دې پورتني شکلونه په پام کې ونيسي او بيا دې له بيلا بيلو زاويو څخه د آس پښه انځور کړي او وروسته دې په نرم پنسل پرداز ورکړي او په دې کار کې دې له ښوونکي څخه مرسته وغواړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده**: په خپله خوښه انځور وکاږئ!

**ارزونه:**

له بېلو بېلو زاويو څخه د آس د پښو د انځور ولو، سيوري او روښنايي په هکله د زده کوونکو سم درک.

# یوولسم لوست

## خزنده ګان

موخه: په آزادو خطونو باندې د خزنده ګانو د انځور ولو او رنګه کولوسره د زده کوونکو آشنا کیدل.

**پوښتنې:**



- خزنده ګان ګټور او که زیان رسوونکي دي ؟
- څو ډوله خزنده ګان پېژنئ؟



**ښاغلیه ښوونکیه!**

د خزنده ګانو د ځانګړتیا وو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړئ او دسمو ځوابو په ویلو کې ورسره مرسته وکړئ. پورتني شکلونو په خطونو باندې د ټولګي په توره دړه انځور کړئ او د دوی سره په انځور ولو کې مرسته وکړئ!



**فعالیت:**

د خزنده ګانو په هکله خپل معلومات بشپړ کړئ او بیا د توري دړې له مخې خطونه په پام کې ونیسئ او پورتنی شکل انځور او رنګه کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده**: يو خزنده انځور کړئ!

## ارزونه:

- له شکلونو اوپوښتنو څخه لاس ته راوړنې.
- دزده کوونکو د فکر ځرنګوالی.

# دوولسم لوست

## ګل

موخه: د ډول ډول ګلونو د انځورولو او رنګه کولو سره آشنا کېدل.

پوښتنې:

- د مرسل د ګلونو د څو رنګو نومونه واخلئ؟
- خلک ولې ګلان خوښوي؟



**ښاغلیه ښوونکیه!**

د زده کوونکو له خوښې سره سم، هر ډول ګل چې د دوی خوښ وي، انځور دې یې کړي او تاسې د دوی سره مرسته وکړئ!

**فعالیت:**

د زده کوونکو هر ډول ګل چې خوښېږي هغه دې انځور کړي او بیا دې په رنګه کولو پیل وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزونه:

❖ د رنګونو په ګډولو (ترکیب) کې کوم مهارتونه په کار وړل شوي دي.

# د یارلسم لوست

## خیالي منظره

موخه: هغه پخوانی لیدنې چې د زده کوونکو په خیال کې وي په کاغذ باندې د هغې په انځور ولو پوهیدنه.

**پوښتنې:**



- ❖ پخوا چې تاسې د طبیعت په هکله فکر کړی و څه ویلی شئ؟
- ❖ له تاریخي توکو څخه کوم شی انځور ولی شئ؟



**ښاغلیه ښوونکیه!**

زده کوونکي وهڅوئ چې د پخوانیو لیدنو پر اساس فکر وکړي، هغه اسلامی ډیزاینونه او تاریخي لر غوني آثار چې د دوی په فکر کې ګرځي هغه دې انځور کړي او دوی فکر کولو ته اړ باسئ.

**فعالیت:**

پورتنی شکل په پام کې ونیسئ او د خپلو پخوانیو لیدنو پربنسټ یو شکل انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:** له خپلو لویانو سره د خپلې خيالي (فکري) ليدنو په اړوند مشوره وکړئ!

# څوارلسم لوست


## کاغذي لاسي کارونه

موخه: د الوتونکو په لاسي کار کې د زده کوونکو استعدادونو ته وده ورکول.

**پوښتنې:**




- ❖ د لاسي کار له جوړيدو څخه وروسته څه احساس درته پيداکيږي؟
- ❖ له کومو مواد و څخه لاسي کارجوړ يدلی شي؟



### ښاغلی ښوونکيه!

زده کوونکو ته سپارښتنه وکړئ چې د پورتني لاسي کار د جوړ يدو لـه پاره يوسپين کاغذ دپورتنيو مرحلو په شان څو واره قات کړي څو پورتنی شکل لاس ته راشي.




### فعاليت:

زده کوونکي دې پورتنی لارښوونې په پام کې ونيسي او د شکل په جوړ يدو دې پيل وکړي او له خپل ښوونکي څخه دې مرسته وغواړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




**کورنۍ دنده:** د خپلولویانو په مشوره یو لاسي کارجوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځلسم لوست


## ونې

موخه: د طبيعت د ساده شکلونو د انځورولو سره اشنا کېدل.

پوښتنې:



- ❖ په طبيعت کې کومې ښکلاوې تر سترګو کيږي؟
- ❖ په طبيعت کې له کومو شيانو سره مينه لرئ؟



ښاغليه ښوونکيه!

زده کوونکي له ټولګي څخه د باندې وباسئ او دوی ته واک ورکړئ چې په خپله خوښه يوه ونه په پنسل باندې انځور او پرداز ورکړي.




فعاليت:

پورتنی شکل په پام کې ونيسئ او له ټولګي نه دباندې يوه ونه خوښه کړئ او هغه انځور او پرداز ورکړئ، د اړتيا په وخت کې له خپل ښوونکي څخه مرسته وغواړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده:** پورتنی فعالیت په کور کې هم سرته ورسوئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library


# شپاړسم لوست

## هندسي شکلونه

موخه: د هندسي شکلونو د کمپوز (سم یوځای کولو) د هغې د پسپکتیف (لریوالي او نږدیوالي) په پام کې نیولو سره د زده کوونکو آشنا کول.

**پوښتنې:**

- ❖ له هندسي شکلونو سره مو پخوا آشنایي درلوده؟
- ❖ هندسي شکلونه ولې کاروو؟




**ښاغلیه ښوونکیه!**


زده کوونکي په ډلو وویشئ، هره ډله دې د هندسي شکلونو په اړوند فکر وکړي او هغه دې په ډیر غور انځور کړي او ستاسې په لارښوونه دې هغه رنګه کړي. دپسپکتیف په هکله دوی ته څه نا څه څرګندونې وکړئ!

**فعالیت:**

د زده کوونکو هره ډله دې پورتني شکلونه انځور کړي. د شکل پسپکتیف (لریوالي او نږدیوالي) ته دې پوره پاملرنه وکړي او بیا دې خپل انځورونو ته پرداز ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library






**کورنۍ دنده:** پورتنی فعالیت یو ځل بیا تمرین کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوو لسم لوست

## تخنیکي او هندسي شکلونه

موخه: په پنسل باندې د تتو سکیچونو او د هندسي شکلو د رنګه کولو زده کړه.

پوښتنې:



- ❖ کوم هندسي شکلونه مو خوښیږي؟
- ❖ هندسي شکلونه په کومو شیانوکې کارول کیږي؟





**ښاغلیه ښوونکیه!**

زده کوونکو به بېل بېل کمپوزونه زده کړي وي، تاسې هغوی ته دبېلو بېلو رنګونو د رنګه کولو طریقې ور و ښایاست د مثال په توګه په یوه رنګ، په دو رنګونو او په درو رنګونو او یا په ډول ډول رنګونو.





**فعالیت:**

زده کوونکي دې پورتنی شکل په تتو خطو انځور کړي او بیا دې په خپله خوښه هغه رنګه کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library







**کورنۍ دنده**: هندسي شکلونه انځور کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتلسم لوست

## ابتکاري شکل

موخه: د چاپیریال له ساده موادو څخه د نوښتګرو ابتکاري انځورونو او دنوښتګر فکر د څرنګوالي سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**



- ❖ یوه دقیقه فکر وکړئ او بیا د خپلو فکري پایلو په اړه وغږیږئ؟
- ❖ نوښت (ابتکار) څه شي ته وایي؟



### ګرانه ښوونکیه!

زده کوونکي د څو دقیقو لپاره فکر کولو ته پرېږدئ او بیا دې پورتنی شکل په پام کې ونیسي او یو بل ابتکاري او نوښتګر اثر دې جوړ کړي. د ابتکاري اثر په هکله دوی کولی شي له یو بل سره مشوره هم وکړي په دې درس کې به تاسې ته جوته شي چې د دوی نوښتګرو استعدادو څومره وده کړېده.



### فعالیت:

پورتنی شکل په پام کې ونیسئ او ښه فکر وکړئ او یو ابتکاري شکل جوړ کړئ له خپلو ټولګیوالو سره په دې اړه مشوره هم کولی شئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library







**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه انځور وکاږئ!

# نولسم لوست

## ابتکاري شکل

موخه: د ابتکاری شکلو نوله جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کيدل.

پوښتني:

❖ لاندې شکل څه ډول جوړ شوی دی؟
❖ تاسې کله دا ډول نوښت او ابتکار کړی و؟




ګران ښوونکی دې:
زده کوونکي و هڅوي چې پورتنی شکل په پام کې ونيسي او له پاڼو څخه دې يو ابتکاري شکل جوړ کړي.

فعاليت:
پورتنی شکل په پام کې ونيسئ او له پاڼو څخه يو ابتکاري شکل جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:** د ابتکاري شکلو د طرح کولو لپاره فکر وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست

# ابتکاري شکل

موخه: په سپین کاغذ د رنګونو له اچولو او قات کولو څخه د ابتکاري انځورونو د جوړولو سره آشنا کیدل.

### پوښتنې:



- ❖ د څه شي په هکله فکر کوئ ویې وایئ ؟
- ❖ له ابتکاري کارونو څخه خوند اخلئ؟



### ښاغلی ښوونکی دې:

زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې د رنګونو د ترکیب او تویولو او د خپل ابتکاري هنری اثر دجوړیدو په اړه په خپله تصمیم ونیسي. او تاسې دوی ته سپارښتنه وکړئ چې خپل کالي، د کورنۍ شیان او درسي لوښي په رنګ ککړ نه کړي.



### فعالیت:

یو سپین کاغذ په مساوي او برابر ډول قات کړئ او په یوه برخه یې څو رنګه واچوئ او بیرته یې قات کړئ او دلاس په ورغوي فشار ورکړئ پس له څو شیبو هغه خلاص کړئ وبه ګورئ چې یو هنري اثر ترې جوړ شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:** په کور کې یو هنري ابتکاري انځور جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو ویشتم لوست

## د پاڼو ټاپه

موخه: د چاپېریال دشیانو د ټاپه کولو سره آشنا کول.

پوښتنې:



- ❖ د ټاپه کولو له پاره کوم شیان په کارېږي؟
- ❖ له طبیعي شیانو او رنګ څخه په ټا په کولوکې څه ډول استفاده کوئ؟



**ګرانه ښوونکیه!**

له زده کوونکو سره دطبیعي موادو په پیدا کولو او رنګه کولو کې مرسته وکړئ او دوی وهڅوئ چې پخپله کار وکړي.




**فعالیت:**

د ونې یوه پاڼه په رنګ ښه ککړه کړئ او بیایې په یوه سپین کاغذ ونښلوئ ترڅو د پاڼې شکل د کاغذ پرمخ جوړ شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:** په خپله کتابچه کې یوه پاڼه په ټاپو ښکلې کړئ!

# دوه ویشتم لوست


## ډیزاینونه

موخه: په پنسل باندې د ډیزاینونو له سکیچ کولو سره آشنا کیدل.

پوښتنې:



- ❖ له ډیزاینونو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟
- ❖ تاسې په خپل چاپیریال کې کوم ډیزاینونه لیدلي دي؟



**ګران ښوونکی دې:**

پورتنی ډیزاین د ټولګي په توره دړه داسې سکیچ کړي چې زده کوونکي ستاسې دلاس حرکت په خپلو سترګو ووینې. دوی ته دخپل انځور د پاکوالي په اړه خبرې وکړئ!




**فعالیت:**


زده کوونکي دې په روښانه خطونو پورتنی ډیزاین انځورکړي او بیا دې په نرم پنسل نوري طرحې وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library





**کورنۍ دنده:** د کورنۍ د لويانو په مشوره له ډيزاين څخه يو لاسي کار جوړ کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دروېشتم لوست


## ډيزاين

موخه: په پنډ کاغذ کې د ډيزاينونو د قطع کولو څخه دلاسي کار د جوړولو زده کړه.

**پوښتنې:**



- ❖ په پنډ رنګه کاغذ کې لاسي کار جوړولی شئ؟
- ❖ له ډيزاينونو څخه لاسي کار ولې جوړوئ؟




**ګران ښوونکی دې:**

زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې په پنډ رنګه کاغذ باندې ډيزاينونه انځور کړي او د پورتنيو پړاوونو په اړه دوی ته ور څرګند ونې وکړي.



**فعاليت:**

زده کـوونـکي دې لومړی پورتنی ډيزاين په يوه رنـګه پنډ کـاغذ باندې انـځور کـړي او بيا دې د بياتي په واسطه هغه په منظمه توګه بياتي کړي او پس له هغې بياتي شوی ډيزاين دې پر بل سپين کاغذ ونښلوي.





**کورنۍ دنده:** د چاپیریال له ساده موادو څخه ډېزاینونه جوړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلور ویشتم لوست

## ابتکاري شکل

موخه: د ونو له پاڼو څخه د بیلابیلو شکلونو له جوړولو سره آشنا کیدل.

پوښتنې:

❖ د کومو پاڼو څخه ښکلي شکلونه جوړیدلی شي؟
❖ له پاڼو څخه څه ډول شکلونه جوړ وئ؟





ښاغلی ښوونکی دې:


زده کوونکو ته ووايي چې په بل درسي ساعت کې د ونو بېلې بېلې پاڼې له ځان سره راوړي. تاسې دوی ته لارښوونه وکړئ چې د سپین کاغذ په پاڼه دونو له پاڼو څخه بیلابیلو شکلونه جوړ کړي. د شکلو په جوړ ونه کې ورسره مرسته وکړئ.

فعالیت:

پورتني شکل نه په ګټه اخیستنه پاڼې د یوه سپین کاغذ په مخ داسې سرېښ کړئ چې یو هنري شکل ترې جوړ شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library





## ارزونه:

- د زده کوونکو هنري او ابتکاري ليدنې.
- د چاپيريال له موادو څخه سمه ګټه اخيستنه.
- د موادو په پيدا کولو کې د دوی د فکر ځرنګوالی.
- داستعدادونو وده او په هنري تفکر کې يې بدلون.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځه ویشتم لوست

## کورني لوښي

موخه: په تتو (خفیفو) خطونو د کورنیو لوښو د سکیچ کولو زده کړه.

پوښتنې:



- د کور له لوښو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟
- په لاندې شکل کې د کور کوم لوښي وینئ؟



### ښاغلی ښوونکی دې:

پورتني انځورونه د ټولګي په توره دړه رسم کړي او د شکل د کمپوز په هکله دې دوی ته لازمې څرګند ونې وکړي. د لریوالي او نږدیوالي، سیوري او روښنایي په اړه دوی ته لارښوونې وکړئ.



### فعالیت:

پورتني شکلونه په تتو (خفیفو) خطونو انځور او بیا د نرم پنسل په واسطه سیوري او روښنایي پکې انځور کړئ او له تتو خطونو څخه یوه قوي انځور ته مخه وکړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کورنۍ دنده**: له پورتنیو لوښو څخه یو انځور کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ ویشتم لوست

## د کورني لوښي

موخه: د کورنیو لوښو له رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کول.

پوښتنې:



- ❖ لاندې لوښي په کوم ځای کې جوړیږي؟
- ❖ داشکلونه کوم رنګونه لري؟



### ګران ښوونکی دې:

د پورتنیو شکلونو د رنګ په اړه زده کوونکو ته څرګند وني او د رنګو نو د ترکیب ترتیب دوی ته ور زده کړي. ددوی بشپړ شوي انځورونه په ټولګی کې د ننداری له پاره کیږدئ.



### فعالیت:

پورتنی شکل په تتو خطونو سکیچ کړئ او بیا یې په رنګه کولو پیل وکړئ. هڅه وکړئ چې د پورتني شکل رنګونه کټ مټ پیدا کړئ او په سمه توګه یې وکاروئ. که چیرته ستاسې انځور بشپړ نه شو، نو بیا هغه په کور کې تکمیل کړئ!



**کورنۍ دنده:** د انځور رنګه کول په کور کې بشپړ کړئ!



(c) ketabton.com: The Digital Library


# اووېشتم لوست

## د لرغوني آثار

موخه: د تاريخي آثار د انځورولو او پرداز ورکولو زده کړه.

**پوښتنې:**

- زموږ د ګران هيواد تاريخي آثار د نورو هيواد ونود تاريخي آثارو سره څه توپيرونه لري؟



**ښاغلي ښوونکي دې:**


د افغانستان او د نړۍ د تاريخي آثارو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړي. پورتنی شکل په توره دړه په آزادو خطونو انځور کړئ او دوی ته سپارښتنه وکړئ چې دتورې دړې او کتاب له مخې انځور ګري وکړي.


**فعاليت:**

زده کوونکي دې د تورې دړې او کتاب له مخې د پورتني شکل انځور وکاږي او بيا دې پرداز ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library







کورنۍ دنده: د تاریخي آثارو په هکله له خپلو لویانو څخه پوښتنې وکړئ



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اته ویشتم لوست


## تاریخي اثار

موخه: دتاریخي اثارو پېژندنه او په خطونو باندې له هغې د انځور ولو سره آشنا کېدل.

**پوښتنې:**



- د بست کلا په کوم ځای کې ده؟
- کوم تاریخي اثارمو تر اوسه لیدلي دي؟



**ګران ښوونکی دې:**

د تاریخي اثارو په اړه زده کوونکو ته څرګندونې وکړي او د پورتنې شکل په انځور ولو او رنګه کولو کې د دوی سره لازمه مرسته وکړي.

**فعالیت:**

زده کوونکي دې دښوونکي د لارښوونې سره سم پورتنی شکل په تتو خطو انځور کړي. او بیا دې په رنګه کولو پیل وکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهه ویشتم لوست


## لاسي کار

موخه: د چاپیریال د ساده موادو څخه دتاریخي اثارو د لاسي کار د جوړولو سره اشنا کیدل.

پوښتنې:

- ❖ تاریخي آثار له کومو موادو څخه جوړ یږي؟
- ❖ د تاریخي آثارو له لیدنې ورسته څه احساس درته پیدا کیږي؟





### ګران ښوونکی دې:

د پورتني شکل د لاسي کار په جوړولو کې دوی ته څرګند وني او لازمه مرسته وکړئ او دهغې د جوړولو په طریقه یې وپوهوئ. له ختې، کاغذ او لرګي څخه کولی شي چې پورته شکل جوړ کړي.



### فعالیت:

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او بیا دې د لاسي کار په هکله فکر وکړي او هر زده کوونکی دې لاسي کار جوړ کړي او له بشپړیدو وروسته دې په ټولګی کې د ننداري له پاره کیږدي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیرشم لوست

## تاریخي آثار


موخه: له لرغونو آثارو څخه د یوه اثر د انځور ولو او رنګه کولو سره آشنا کیدل.

### پوښتنې:



- ❖ د افغانستان د لرغونو آثارو په هکله څه ویلی شئ؟
- ❖ په خپل چاپیریال کې مو لرغوني آثار لیدلي دي؟





### ښاغلی ښوونکی دې:

د لرغونو آثارو په هکله زده کوونکو ته څرګندونې وکړي او دوې دې وهڅوي چې د خپلې منطقې لرغوني آثار وګوري د امکان په صورت کې باید دوی په کابل کې د استقلال منار، په هرات کې دجام منار، په لشکرګاه کې د بُست قلعه، په پغمان کې له طاق ظفر څخه لیدنه وکړي.

### فعالیت:

زده کوونکي دې د پورتنیو شکلونو څخه یو په تنو خطونو انځوراو بیا دې په مناسبو رنګونو ښکلا ورکړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**